دعوتِ اِسلامي

د رضا فیضان دے

29-August-2024

هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنّتو ډك بیان

(for Islamic Brothers)

پۀ 29 اگست کال 2024ء (بمطابق، 23 صَفرُ المُظفر، 1446ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

دعوتِ اِسلامي د رضا فيضان دے

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... نيغه لار نصيب شوه
- ...د حق پيژندلو د پاره د اِسلام تعليمات
- ... پۀ دوئي پسې ځۀ! ټول به پۀ تا پسې روان وي
- ... د رضا د خوب عملي تعبير

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وکړو)

د دُرُودِ پاک فضيلت

رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: چې څوک په ما باندې يو ځل دُرُودِ پاک ولولي، الله پاک به په هغۀ باندې 10 رحمتونه نازل کړي، څوک چې په ما باندې 10 کرته دُرُودِ پاک ولولي، الله پاک به په هغۀ باندې 100 رحمتونه نازل کړي او څوک چې په ما باندې 100 کرته دُرُودِ پاک ولولي، الله پاک به د هغۀ د دواړو سترګو ترمينځه وليکي چې دا بنده د منافقت نه او د دوزخ د وور نه آزاد دے. [1]

نامِ حضرت پہ لاکھ بار دُرُود | بے عَدد اور بے شُمار دُرُود
ہم کو پڑھنا خدا نصیب کرے | دَم بدَم اور بار بار دُرُود
مومنو! آپ پر پڑھے جاؤ | با اَدَب اور باوَقار دُرُود
جو محبِّ نبی ہے اے کافی! | چاہیے اس کو بار بار دُرُود [2]

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! دا د دُرُودِ پاک عظيمُ الشَّان برکت دے چې د دې په برکت

---

[1]...مجمع الزوائد، کتاب الادعیۃ، فی الصلوۃ علی النبی...الخ، جلد:10، صفحہ:184، حدیث:17298.
[2]...کافی کی نعت، صفحہ:38.

د زړۀ نه د منافقت اثر ختميږي او اِيمان پخيږي. علّامه اِبنِ حجر رحمۃ اللہ علیہ ليکي: دُرُودِ پاک يوه نيکي نۀ ده بلکې دا د ډيرو نيکو مجموعه ده ❁ د دُرُودِ پاک لوستلو سره اِيمان تازه کيږي، دا يوه نيکي ❁ د دُرُودِ پاک پۀ برکت پۀ رسولُ الله صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم باندې يقين زياتيږي، دا دويمه نيکي ❁ پۀ دُرُودِ پاک لوستلو کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم تعظيم دے، دا دريمه نيکي ❁ د دُرُودِ پاک لوستلو سره پۀ آخرت باندې ايمان پخيږي، دا څلورمه نيکي ❁ پۀ دُرُودِ پاک کښې د نبي کريم صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم د اِحسانانونو ذِکر دے، دا پينځمه نيکي ❁ پۀ دُرُودِ پاک کښې د نيکانو د سردار، مکي مَدَني تاجدار صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم ذِکر دے او د نيکانو پۀ ذِکر باندې رحمت نازليږي، دا شپږمه نيکي ده. (1)

داسې قِسمه نورې ډيرې نيکۍ دي کومې چې د دُرُودِ پاک پۀ ضِمن کښې راځي. ځکه مونږ له پکار دي چې پۀ زړۀ کښې د ايمان زياتولو، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم پۀ عشق کښې د رنګ کيدو او د **الله** پاک د رحمتونو د حقدار جوړيدو د پاره پۀ کثرت سره دُرُودِ پاک لولو.

نبی کی شان میں ہو جس قدر دُرُود پڑھو! | مُحِبّو! پاؤ گے جنّت میں گھر دُرُود پڑھو!
جو اپنے کاموں کا انجام نیک چاہتے ہو | ہر ایک کام میں تم پیش تر دُرُود پڑھو!
ہزار دَرد کو یہ ایک دَوا کفایت ہے | جو پیش آئے ذرا بھی خطر دُرُود پڑھو! (2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د بيان اوريدلو نيتونه

1...الدر المنضود، مقدمہ، الفائدۃ الرابعہ...الخ، فوائد فی الامر بالصلاۃ علیہ، صفحہ:22.
2...نورِ ایمان، صفحہ:56تا57 ملتقطاً.

په حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے. [1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي. راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ په اَدب به کښينم ❁ ښۀ په توجُّه به بيان اورم ❁ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

نيغه لار نصيب شوه

د حيدر آباد (پاکستان) د يو اِسلامي ورور بيان دے چې د کال 1990ء خبره ده، بدې عقيدے زمونږ په خاندان کښې خورې شوې وې. زۀ پخپله پريشانه ووم چې څوک په نيغه لار باندې دي، ما ته په چا پسې تلل پکار دي. يوه شپه ما په سخته پريشانۍ کښې دا دُعا وکړه: يا الله پاکه ما ته د صحيح عقيدے اختيارولو توفيق راعطا کړې. د دې نه پس زۀ اوده شوم. په خوب کښې زما د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زيارت نصيب شو، په خوا کښې ورسره نوراني مخونو والا دوه بزرګان هم موجود وو. په هغوئ کښې د يو طرفته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اشاره وکړه او يې وفرمائيل: دا احمد رضا دے، د دۀ مسلک اختيار کړه! بيا يې د دويمې هستۍ په باره کښې وفرمائيل: دا اِلياس قادري دے، د دۀ مُريد جوړ شۀ! چې کله زۀ رابيدار شوم نو ډير خوشحاله ووم. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! هم د هغې ورځې نه ما د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لمن کلکه ونيوله او د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه مې بيعت وکړو او عطّاري هم جوړ شوم. د دعوتِ

---

[1]...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1.

اِسلامي د دِيني ماحول پۀ برکت سره نن زما ټول خاندان عاشقِ رسول شوے دے. [1]

جلوہ ہے نور ہے کہ سراپا رضا کا ہے
تصویرِ سُنّیت ہے کہ چہرہ رضا کا ہے

کس کی مجال ہے کہ نظر بھی مِلا سکے
دربارِ مصطفٰی میں ٹِھکانا رضا کا ہے

اس دورِ پُر فتن میں نظرؔ خوش عقیدگی
سرکار کا کَرم ہے وسیلہ رضا کا ہے

وضاحت: د حضور اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ بدن مبارک د **الله** پاک د انوارو او تجلیاتو مَظهر او د هغوئي مخ مبارک د سُنیت پیژندګلو ده. د خوږ آقا صلی اللہ علیہ والہ وسلم پۀ جناب کښې چې هغوئي ته کوم مقام او مرتبه حاصله ده، پۀ اوسني وخت کښې د چا مجال دے چې د هٰغه مقام سره نظر هم میلاؤ کړي، د **الله** پاک پۀ کرم سره که نن مونږ ته ښه عقیده حاصله ده نو دا د خوږ آقا صلی اللہ علیہ والہ وسلم پۀ کرم سره او د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ پۀ وسیلې سره حاصله ده .

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دیدار حق دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! پۀ حدیثِ پاک کښې دي: رسولِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمائیلي دي: مَنْ رَاٰنِیْ فِی الْمَنَامِ فَقَدْ رَاٰنِیْ، فَاِنَّ الشَّیْطَانَ لَا یَتَمَثَّلُ بِمِثْلِیْ یعني چا چې پۀ خوب کښې زۀ ولیدلم، هغۀ هُم زۀ ولیدلم، بے شکه شیطان (پۀ خوب کښې هم) زما پۀ مثل (جوړ شوے) نشي راتلے. [2]

د دې حدیثِ پاک نه ثابته ده چې که چرې نن هم پۀ چا خوش قِسمته باندې کرم وشي، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم پۀ خوب کښې تشریف راوړي نو

1...اعلیٰ حضرت کی انفرادی کوشش، صفحہ:5.

2...مسند احمد، جلد:16، صفحہ:44، حدیث:9966.

هغهٔ پهٔ حقيقت کښې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زيارت شرف حاصلوي او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې پهٔ خوب کښې څهٔ وفرمائي، هغهٔ يقيناً چې حق، حق او هم حق وي. آؤ! د دې صحيح تعبير ګڼل ضروري دي.

پهٔ عاشقانِ رسول باندې کرم

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا کرم دے چې هغوئي وخت پهٔ وخت د حق لټوونکو پهٔ خوب کښې تشريف راوړي او هغوئي ته نيغه لار ورښائي، د رَبِّ رحمان ډير لوئي کرم دے چې زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خوبونو پهٔ ذريعه زمونږ د عاشقانِ رسول د رښتونو عقيدو تصديق فرمائي. د ملتان شريف واقعه ده، يو طالبِ عِلم وو، چا چې به د يو بد مذهبه نه عِلم زده کولو، بد مذهبه خو ظاهره ده چې بد مذهبه وي، د هغهٔ نه عشقِ رسول څنګه ميلاويدے شي، نو هٰغه طالبِ عِلم به د هٰغه بد مذهبه خبرے اوريدلې، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ باره کښې به يې د هٰغه بد مذهبه ګستاخيانې اوريدلې، پريشانه کيدلو به هم، آخر يو ځل هٰغه طالبِ عِلم د زمانے د غزالي حضرت علّامه احمد سعيد کاظمي شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پهٔ خِدمت کښې حاضر شو، د هغهٔ ذِهن پريشانه وو، معلومه ورته نه وه چې څوک پهٔ نيغه لاره باندې دي، علّامه احمد سعيد کاظمي شاه صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د هغهٔ سره خبرے اترې وکړې او اوئې فرمائيل: **تهٔ نيغه لار پيژندل غواړې! بيګا له به يې وپيژنې.**

د زمانے د غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا فرمان څهٔ وو، ښکاره کرامت وو، هٰغه طالبِ عِلم چې د شپې اوده شو نو د هغهٔ بخت رابيدار شو، پهٔ خوب کښې ورته خوږ آقا، نوراني مصطفٰے صَلَّى

صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم د نوراني مخ سره تشريف راوړلو، رسول الله صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم هغهٔ ته تلقين وفرمائيلو چې هُم دعلّامه كاظمي رحمۃ اللہ علیہ پهٔ مدرسه كښې سبق وايه! هُم دا پهٔ صحيح لاره باندې دے.

اہلِ ایمان تو کیوں پریشان ہے | رَہبری کو تیری کَنْزُ الْایمان ہے
ہر قدم پر یہ تیرا نگہبان ہے | یاخُدا یہ اَمانت سَلامت رہے
مسلکِ اعلیٰ حضرت سَلامت رہے

لاکھ جلتے رہیں دُشمنانِ رَضا | کم نہ ہوں گے کبھی مَدْحَ خوانِ رَضا
کہہ رہے ہیں سبھی عاشقانِ رَضا | مسلکِ اعلیٰ حضرت سَلامت رہے
مسلکِ اعلیٰ حضرت سَلامت رہے

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د حق د پيژندلو د پاره اِسلامي تعليمات

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! زمونږه ښکلے دِين اِسلام رښتونے دِين دے، اوس تر قيامته پورې هم دا دِين دے، اوس به نهٔ څهٔ نوے دِين راځي، نهٔ به نوے دِين وي، مونږ له د اِسلام د مِزاج سره واقف کيدل پکار دي، خبره تر قيامته پورې ده، تقريباً پهٔ تيرو څوارلس نيمو صدو کښې پهٔ زرګونو فتنے راپيدا شوې، بيا به هم تر قيامته پورې فتنے راپيدا کيږي، پهٔ دې فتنو کښې د حق پيژندلو د پاره اِسلام مونږ له څهٔ پيغام راکوي؟ پهٔ دې تعليم پهٔ ښه طريقه د پوهيدو ضرورت دے، د حق د پيژندلو پهٔ باره کښې د اِسلام مِزاج څهٔ دے؟ نن د دې مزاج خپلو سينو ته د کوزولو ډير زيات ضرورت دے.

د حق د پيژندلو پهٔ باره کښې د اِسلام مِزاج څهٔ دے؟ د قرآنِ کريم نه يو څو مثالونه زهٔ

تاسو ته وړاندې کووم:

اِنعام يافته بندګان د حق معيار دے

وړومبۍ سيپاره ده، سورۀ فاتحه ده او خبره ده د صراطِ مستقيم، د نيغې لارې د پيژندلو...!! د مثال پۀ طور 15 صدۍ هجري ده، ما ته به څنګه پته لګي چې نيغه لاره کومه يوه ده؟ قرآنِ کريم مونږ ته دا وښودله، ارشاد دے:

صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ	ترجمۀ کنزُ العِرفان: د هٰغه خلقو په لار چې تا پرې احسان کړے دے.

معلومه شوه چې پۀ چا باندې د **الله** پاک اِنعام وشو د هغوئې چې کومه لاره ده هغه **صراطِ مُستقيم** دے، اوس هٰغه اِنعام يافته خلق څوک دي؟ پۀ 5 سيپاره، سورۀ نِساء، آيت: 69 کښې **الله** پاک فرمائي:

فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ۚ	ترجمۀ کنزُ العِرفان: نو هغه به د هٰغه خلقو سره وي پۀ کومو چې الله فضل کړے دے يعنې انبياء او صديقين او شهيدان او صالِحين.

لکه چې مونږ ته فرمائيلے کيږي چې د انبيائے کرامو عليهم السّلام چې کومه لاره ده، پۀ هٰغه لار باندې ځئ، دا نيغه لاره ده، د صِدّيقينو پۀ لاره باندې ځئ، دا نيغه لاره ده، د شهيدانو پۀ لاره باندې ځئ، دا نيغه لاره ده، د نيکانو خلقو پۀ لاره باندې ځئ، دا نيغه لاره ده.

د پوهې خبره ده چې قرآنِ کريم مونږ ته رول ماډلز وښودل، شخصيات يې راته وښودل او اوئې فرمائيل، پۀ دې خلقو پسې روان شئ! دا خلق د حق معيار دے، هم دا د نيغې لارې پيژندګلو ده.

پته ولګيده چې د اِسلام مزاج دا دے چې اِسلام شخصيات د حق معيار ګرځوي، نبي خو اوس څوک نشي راتللے، زمونږه خوږ نبي، حضرت مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم آخري نبي دے، د نُبُوَّت دروازه پۀ هغوئي باندې بنده شوې ده، ،قيامت تۀ نزدې به صرف حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړي، خو د نبي پۀ حيثيت نۀ بلکې د آخري نبي محمد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمّتي پۀ حيثيت به تشريف راوړي، غرض دا چې د نبوت دروازه تر قيامته پورې بنده ده، هيڅ نوے نبي به نه راځي، البته تر قيامته پورې صِدِّيقين هم راځي، شهيدان به هم راځي او صالحين به هم راځي، پۀ هر دور کښې هم دا د اوچتې مرتبے خلق د حق پيژندګلو ده، پۀ دوئي پسې روان ګس پۀ نيغه لاره باندې وي.

جن پہ ہے اِنعام تیرا اے خُدا | راہ پر اُن کی چلیں ہم تاحیات

د رَبّ طرفته رجوع کوونکي د حق معيار دے

د دې خبرې يو بَل مثال واورئ! د اِسلام ابتدائي دور وو، د مسلمانانو وړومبي خليفه حضرت اَبُو بکر صِدِّيق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کلمه وئيلې وه، هغوئي د کلمې لوستلو سره نورو ته د اِسلام دعوت ورکول شروع کړل، د هغوئي د دعوت پۀ نتيجه کښې ډيرو صحابۀ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم کلمه وئيلې وه او مسلمانان شوي وو، پۀ دې مسلمان شوو کښې يو نوم د حضرت سَعد بن اَبِي وَقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم وو.

تاسو ته معلومه ده چې پۀ هٰغه وخت کښې به چا کلمه وئيله نو هغۀ به د مختلف قِسمه مشکلاتو سره مخ کيدلو، مکې والۀ به ورته تکليفونه ورکول، څوک به يې پۀ تودو شګو سملولو، څوک به يې وهلو، ويني کولو، پۀ زرګونو قِسمه تکليفونه به يې ورکول. پۀ دې موقع حضرت سَعد بن اَبِي وَقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته يو بيل قِسمه سخته راپيښه شوه، د هغوئي مور کومه چې هٰغه وخت مسلمانه نۀ وه، هغې کلمه نه وه وئيلې، مور هغوئي له جذباتي

دهمکي ورکړله، ايموشنل بليک ميل يې کړو، اوئې وئيل: اے سَعد! ته به دا دِين پريږدې ، که چرې تا دا دِين پرې نه ښودلو نو زۀ به خوراک څښاک پريږدم او د لوږې نه به مړه شم، داسې به زما پۀ وجه تا ته بد رد وئيلے کيږي او خلق به تا ته د مور قاتل وائي. [1]

حضرت سَعد بن اَبِي وَقاص رضی اللہ عنہ ډير پريشانه شو، چې څۀ وکړم؟ يو اړخ ته مور ده، بل اړخ ته دِينِ اِسلام دے، دوه لارې دي چې کوم طرف ته لاړ شم. پۀ دې مشکل وخت کښې الله پاک د قرآنِ کريم آيت نازل کړو، ارشاد وشو:

وَّاتَّبِعْ سَبِيْلَ مَنْ اَنَابَ اِلَيَّ ۚ (پاره:21، سورۀ لقمان:15)	ترجمۀ کنزُ العِرفان: او زما طرف ته د رجوع کوونکي کس پۀ لاره ځه.

يعنې اے سَعد (رضی اللہ عنہ)! د خپلې مور پۀ وجه دِينِ اِسلام مۀ پريږده! بلکې د هٰغه (ابو بکر صِدّيق رضی اللہ عنہ) پۀ لاره باندې روان شۀ چا چې زمونږ طرف ته رجوع کړې ده. [2]

دلته هم وګورئ! شخصيات وښودلے شول، رول ماډل وښودلے شول او تر قيامته پورې دا اُصُول مونږ له راکړے شو چې که هره زمانه وي، هر يو دور وي، هره يوه صدي وي، که هر څومره فتنے راپيدا کيږي، دا غور وکړئ چې د الله پاک طرف ته رجوع کوونکے څوک دے، څوک چې د الله پاک طرف ته رجوع کوونکے دے، پۀ هغۀ پسې ځئ! هم دا د نيغې لارې پيژندګلو ده.

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د دې نه دا معلومه شوه چې الله پاک پۀ هر دور کښې داسې د اوچتې مرتبے خلق پيدا کوي پۀ چا باندې چې د الله پاک لوئې انعام وي، څوک چې د الله پاک طرف ته رجوع کوونکي هم وي، پۀ هر دور کښې هٰغه هستياني د حق پيژندګلو وي، د حق معيار وي او پۀ دوئې پسې روان د نيغې لارې مسافر جوړيږي.

---

[1]...تاريخ دمشق، جلد:20، صفحه:331.

[2]...روح المعانی، پاره:21، سورۀ لقمان، زيرِ آيت:15، جلد:11، صفحه:118، 119.

جنَّتي ډله کومه يوه...؟

ډير مشهور حديثِ پاک دے، د **الله** پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: بني اسرئيل په 72 فرقو کښې تقسيم شوي وو، زما اُمَّت به په 73 فرقو کښې تقسيم شي، په هغې کښې يوه جنَّتي ده، باقي پاتې ټولې به دوزخ ته ځي. پوښتنه وکړے شوه: يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! کومه فرقه چې به جنَّتي وي، هغهٔ څوک ده؟ اوئې فرمائيل: مَا اَنَا عَلَيْهِ وَاَصْحَابِيْ يعنې هٰغه ډله به جنَّتي وي کومه چې به زما او زما د صحابه په لاره روانه وي. [1]

قرآن کی تفسیر صحابہ کے عقائد	ایمان کی تنویر صحابہ کے عقائد
واللہ! انہیں رہبرِ کونین سمجھئے	عرفان کی تاثیر صحابہ کے عقائد

وضاحت: د صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم عقيدے د قرآنِ پاک حقيقي تفسير دے، هم د دې حضراتو عقيدے ايمان تازه کوي، په **الله** پاک باندې مې دې قَسم وي! دا مبارکې هستياني په دواړو جهانونو کښې خپل رهبر وګڼئ! اومنئ! د رَبّ حقيقي پيژندګلو به هم د دې حضراتو د عقيدو په ذريعه ميلاويږي.

سُبْحٰنَ الله! دلته هم وګورئ! خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ټول حق دے، د دې سره سره صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم او څوک چې هم د دوئې په لاره باندې روان شي، هغوئې ته د حق پيژندګلو وه وئيلے شوه، مطلب دا دے چې اُمَّت به په 73 فرقو کښې تقسيم شي، په دوئې کښې هم يوه جنَّتي ده، باقي ټولې به دوزخ ته ځي، په مونږ ټولو باندې لازم دي چې مونږ ټول هم په هٰغه جنَّتي ډله کښې پاتې شو، د باقي پاتې دوزخيانو نه لرې اوسو، اوس پوښتنه دا ده چې هٰغه يوه جنَّتي ډله به څنګه پيژنو؟ په 73 فرقو کښې به هغه څنګه لټوو؟ خوږ نبي، رسولِ

---

[1]...ترمذی، جلد:4، صفحہ:381، حدیث:2641.

هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغې خاصيت وښودلو، اوئې فرمائيل: **وګورئ! د چا عقيدے چې زما د صحابه د عقيدو پۀ شان وي، پۀ هغوئي پسې ځئ، هٰغه ډله به جنّتي وي.**

پۀ دې دور کښې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حق پيژندګلو ده

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د قرآن او د حديث د دې تعليماتو نه مونږ ته معلومه شوه چې پۀ هر دور کښې داسې خلق پيدا کولے شي، پۀ کومو باندې چې د **الله** پاک انعام وي، کوم چې د **الله** پاک طرف ته رجوع کوونکي وي، د کومو پۀ ايماني کيفياتو، عشقِ رسول او پۀ اخلاقو او کردار کښې چې د صحابۀ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم فيضان پۀ نظر راځي، داسې د اوچتې مرتبے خلق د حق پيژندګلو وي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د **الله** پاک کرم وشو، هٰغه رَبِّ رحمان پۀ مونږ باندې فضل وفرمائيلو چې پۀ تيره شوې صدۍ کښې يې د بريلي پۀ زمکه باندې داسې يوه هستي پيدا کړله څوک چې پيدائشي طور ولي هم وو، عشقِ رسول يې داسې چې د عاشقانو اِمام دے، عِلم يې داسې چې لوئي لوئي عالِمان د هغوئي شاګردان ښکاري، مفتي داسې چې د هغوئي پۀ شان لوئي مفتي پۀ اوسنۍ زمانه کښې پۀ نظر نه راځي، د ټولو نه لوئي محدث هم وو، ډير د کمال مُفَسِّر هم وو، نوم د هغوئي **احمد رضا** دے، خلق هغوئي ته اعلیٰ حضرت وائي، د نن سبا د فتنو نه پۀ دې ډک دور کښې د هغوئي نوم د حق پيژندګلو ده.

آبروئے مومناں احمد رضا خاں قادری	رہنمائے گمرہاں احمد رضا خاں قادری
علم میں بحرِ رَواں احمد رضا خاں قادری	دِین میں گوہر فشاں احمد رضا خاں قادری[1]

وضاحت: د مؤمِنانو عزت او وقار، د ګمراهانو هادي او رهنما، د عِلم سمندر، د دِين فيض عام کوونکي ته احمد رضا خان قادري وئيلے شي.

---

[1]...قبالۂ بخشش، صفحہ:344.

پۀ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه باندې د الله پاک انعامات

قرآنِ کريم وه وئيل چې پۀ کومو باندې د الله پاک خاص دِيني انعام وي، هغوئي د نيغې لارې والا دي. اوس پۀ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه باندې د الله پاک انعاماتو ته يو نظر وګورئ!

❁ د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه عمر مبارک صرف 4 کاله وو، دلته عام طور د 4 کالو ماشوم صحيح خبرې هم نشي کولے، عموماً ماشومان پۀ تَته ژبه خبرې کوي بلکې بعضې خو پۀ دې عمر کښې فيډر څښي خو اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د 4 کالو عمر مبارک کښې د قرآنِ پاک ناظره مکمل کړې وه ❁ عموماً د 6 نه 7 کالو پورې د ماشومانو د پئيو غاښونه پۀ وَتلو شي، اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه به پۀ دې عمر کښې پۀ ډَک محفل کښې د علماؤ او مشائخو پۀ موجودګۍ کښې پۀ عربۍ ژبه کښې تقرير کولو ❁ چې د 13 کالو ماشوم وي، هغۀ چرته بوتلل وي نو باقاعده هغۀ پوهه کول وي چې ځويه! هلته لاړ شې نو دا مۀ کوه، هٰغه مۀ کوه، د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه عمر مبارک 8 کاله وو چې هغوئي پۀ درسِ نظامي کښې د ښودلے کيدونکي د عربۍ پۀ کتاب باندې پۀ عربۍ کښې حاشيه ليکله ❁ د 13 کالو، 10 مياشتو، 5 ورځو عمر مبارک کښې هغوئي وړومبۍ فتویٰ وليکله او باقاعِده د مفتي پۀ مسند باندې تشريف فرما شو ❁ 22 کاله عمر مبارک يې وو چې هغوئي د شاه آلِ رسول رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پۀ خِدمت کښې د بيعت د پاره حاضر شول، د شاه آلِ رسول رَحْمَةُاللهِعَلَيْه انداز مبارک وو چې څوک به هم د بيعت د پاره راتلل، پۀ هغوئي باندې به يې تر ډيرو کلونو پورې مجاهدات کول، رياضتونه به يې پرې کول، خو قربان شم! اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه 22 کلن ځلمے دے، د شاهِ آلِ رسول رَحْمَةُاللهِعَلَيْه پۀ خِدمت کښې حاضر شو، هغوئي چې ورته وکتل نو اوئې فرمائيل: راځئ! مونږ خو د ډيرو ورځو نه انتظار کولو.[1] بيا هم پۀ وړومبي ملاقات کښې

---

[1]...فيضان اعلیٰ حضرت، صفحه:316.

هغوئي خپل قابل او نوي مُريد ته خِلافت هم عطا کړلو، نور مُريدان يې حيران وو چې د دې آستانې نه خلافت اخستل دومره اسان نه دے، تر ډيرو کلونو پورې محنت وي، بيا دا نعمت ميلاويږي، پۀ احمد رضا خان رحمۃ اللہ علیہ باندې داسې عنايت ولې؟ د پير صاحب نه چې د دې حکمت پوښتنه وکړے شوه نو د هغوئي پۀ سترګو کښې اوښکې راغلې، بيا يې وفرمائيل: اے خلقو! تاسو ته احمد رضا څۀ معلوم دے...! بيا يې وفرمائيل: زۀ فِکر مند ووم چې که الله پاک د قيامت پۀ ورځ وفرمائيل: اے آلِ رسول! تا د دُنيا نه زمونږ د پاره څۀ راوړلي دي؟ نو زۀ به څۀ جواب ورکووم. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! نن هغه فِکر ختم شو. **اوس که الله پاک زما نه پوښتنه وکړه چې آل رسول! د دُنيا نه دې څۀ راوړي دي نو زۀ به مولانا احمد رضا پيش کړم.**

روزِ محشر اگر مجھ سے پوچھے خُدا | بول آلِ رسول تُو لایا ہے کیا
عرض کردوں گا لایا ہوں احمد رضا | یا خُدا یہ امانت سلامت رہے

مسلکِ اعلیٰ حضرت سلامت رہے

شاه آلِ رسول رحمۃ اللہ علیہ نور وفرمائيل: (خلقو! واورئ...!) باقي حضرات د زنګ شوي زړۀ سره راځي، هغوئي تيارول غواړي، احمد رضا د صفا زړۀ سره بالکل تيار راغلے دے، دۀ ته خو صِرف د نسبت ضرورت وو. [1]

اَللّٰهُ اَکْبَر! اے د خوږ نبي صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم عاشقانو! اندازه ولګوئ!

تُو نے باطل کو مٹایا اے امام احمد رضا | دین کا ڈنکا بجایا اے امام احمد رضا
زور باطل کا، ضَلالت کا تھا جس دم ہند میں | تُو مجدِّد بن کے آیا اے امام احمد رضا
تُو نے باطل کو مٹا کر دین کو بخشی جِلا | سنّتوں کو پھر جِلایا اے امام احمد رضا[2]

---

[1]...تجليات امام احمد رضا، صفحه:37.
[2]...وسائلِ بخشش، صفحه:535.

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او د صحابۂ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم عقیدے

دغه شان چې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کومې جنَّتي ډلې خاصیت وښودلو چې د هغوئي عقیدے به د صحابۂ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم د عقیدو مطابق وي، اوس د قرآن او حدیث پۀ رڼا کښې یو خوا د صحابۂ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم عقیدو ته وګورئ! بل خوا د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مسلک ته وګورئ! معلومه به شي چې اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هٰغه هستي ده کومه چې پۀ دې وخت کښې د حق پیژندګلو ده.

یو څو مثالونه عرض کووم، د قرآن او حدیث نه ثابته ده چې ❁ د صحابۂ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم عقیده وه چې خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عِلمِ غیب ورکړے شوے دے، پۀ دې دور کښې د عِلمِ غیب د عقیدے څوکۍ کوونکے اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے ❁ د صحابۂ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم عقیده وه چې محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور دے، پۀ دې دور کښې د عقیدۂ نُور څوکۍ کوونکے اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے ❁ د صحابۂ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم عقیده وه چې رَبِّ رحمان محبوبِ ذِیشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مختارِ کُل جوړ کړے دے، پۀ دې دور کښې د اختیاراتِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د عقیدے څوکۍ کوونکے اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے ❁ د صحابۂ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم عقیده وه چې محبوبِ ذیشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د قیامت پۀ ورځ شفاعت فرمائي، پۀ دې دور کښې د عقیدۂ شفاعت څوکۍ کوونکے اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے ❁ د صحابۂ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم عقیده وه چې څۀ هم ورکوي، **الله** پاک یې ورکوي، محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم یې تقسیموي، پۀ دې دور کښې د دې عقیدے څوکیدارۍ کوونکې هستۍ ته اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وئیلے شي.

علم کے ہیں گُلستاں احمد رضا خاں قادری
باغِ دِیں کے گل فِشاں احمد رضا خاں قادری

حق شناس و حق نما و نائبِ شمس الضحیٰ
وارثِ پیغمبراں احمد رضا خاں قادری

تیرا علم و فضل و شان و شوکت و جاہ و حشم
دے مبارک باد ان کو قادری رضوی جمیل

شش جہت پر ہے عیاں احمد رضا خاں قادری
جن کے مرشد ہیں میاں احمد رضا خاں قادری[1]

وضاحت: د عِلمِ دِين باغ، د دې باغ ګلونه تقسيموونکے، د **الله** پاک پيژندګلو لرونکے، د نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نائب، بلکې د انبيائے کرامو وارث ته احمد رضا خان قادري وئيلے شي، د هغوئي عِلم او فضل، شان او شوکت په هر لور عام دے، اے جميل قادري! هغه خوش قِسمتو ته مبارکي ورکړه! د چا پير چې احمد رضا خان قادري دے.

د حق پيژندلو طريقه

چا پوښتنه کړې وه چې خلق په فرقو کښې تقسيم شوي دي نو حق څنګه و پيژنو؟ جواب ورکوونکي ډير ښکلے جواب ورکړو، اوئې وئيل: خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جنّتي ډله ښودلې ده چې مَا اَنَا عَلَيْهِ وَاَصْحَابِيْ يعنې کومه چې زما په طريقه باندې ده، زما د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم په لاره باندې ده، هغه جنّتي ډله ده. تفصيلي عقيدے او نظريې خو په خپل ځائے باندې دي خو د پوهه کولو د پاره يو وړوکے شان مثال په خپل ذِهن کښې ساتئ! د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم شپه ورځ وظيفه وه، په وړه وړه خبره به يې وئيل: فِدَاكَ اُمِّيْ وَاَبِيْ يَا رَسُوْلَ اللهِ يعنې يا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما مور پلار دې په تاسو باندې قربان شي.

ويونکي وه وئيل چې بس دې يوې خبرې ته وګوره چې په اوسني وخت کښې د چا په ژبه باندې دي؟ په برصغير کښې ډير لوئي لوئي اديبان هم تير شوي دي، ډير لوئي لوئي شاعران هم راغلي دي، ډير لوئي لوئي ليکوال هم تير شوي دي، ډير لوئي لوئي محققين هم تير شوي دي خو په دې زمکه باندې يو اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ دے چا چې وه وئيل:

کروں تیرے نام پہ جاں فدا، نہ بس ایک جاں دو جہاں فدا

[1]...قبالۂ بخشش، صفحہ:344.

دو جہاں سے بھی نہیں جی بھرا، کروں کیا کروڑوں جہاں نہیں[1]

يو خوا د صحابۂ کرامو رضی اللہ عنہم د عشق انداز دے، بل خوا د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د عشق انداز دے، د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ پۂ عشق کښې د صحابۂ کرامو رضی اللہ عنہم فيضان صفا پۂ نظر راځي، پۂ دې کښې اشاره ده چې پۂ اوسني وخت کښې که د حق پيژندګلو که څوک ده نو هغۂ اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رحمۃ اللہ علیہ دے.

د عاشقِ رسول د پيژندلو نا اشنا انداز

پۂ مکه مکرمه کښې د مالکي فقه يو عظيم مفتي وو، علامه شيخ سيِّد محمد عَلوِي مَالکي رحمۃ اللہ علیہ، هغوئي رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: **د مولانا احمد رضا خان بريلوي سره محبت د سُنّيت علامت دے او د هغوئي سره بغض او دښمنۍ د بدعت علامت دے.** [2]

حضرت علامه قادر بخش سَهسرامي رحمۃ اللہ علیہ ډير لوئے عالِم دين وو، يو ځل ترې چا تپوس وکړو چې د سُنّي او بدعقيده د پيژندلو يوه ساده شان طريقه راوښائے. هغوئي رحمۃ اللہ علیہ وفرمائيل: د چا پۂ باره کښې چې دا اندازه لګول غواړئ چې دا سُنّي دے کۂ بدعقيده، نو د هغۂ پۂ مخکښې د **مولانا احمد رضا خان صاحب** تذکره شروع کړئ! کۂ پۂ مخ يې خوشحالي ښکاره شي نو يقين وکړئ چې دا عاشقِ رسول سُنّي دے او کۂ مخ يې وران شي نو پوهه شئ چې بد مذهبه دے. [3]

پۂ دوئي پسې ځۂ! ټول به پۂ تا پسې روان وي

يو ځل سيدي اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د مهائم شريف (هندوستان) د يو مجذوب سره د

1...حدائقِ بخشش، صفحہ:344.
2...جہانِ امام احمد رضا، جلد:14، صفحہ:40 ملخصاً.
3...حیاتِ اعلیٰ حضرت، جلد:3، صفحہ:274 ملخصاً.

ملاقات د پاره تشريف يوړلو، حضرت عبد السلام جبل پوري رحمۃ اللہ علیہ هم د هغوئي سره وو. مفتي بُرهانُ الحق رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: چې کله مونږه هلته ورسيدو نو مجذوب رحمۃ اللہ علیہ په سر باندې عمامه شريف کيښودې وه، په تخت باندې ناست وو او دلائِل الخيرات شريف يې لوستلو.

هغوئي د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ ښه ډيره ميلمستيا وکړه، چې کله واپس راتللو نو ما د هٰغه مجذوب رحمۃ اللہ علیہ ښې مبارکې ونيولې او عرض مې وکړو: زما د پاره دُعا وکړئ! هٰغه مجذوب رحمۃ اللہ علیہ زما په ملا باندې لاسې کيښودو او د سيدي اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ په لور يې اشاره وکړه او اوئې فرمائيل: **په دوئي پسې ځه! ټول به په تا پسې روان وي.** [1]

ميں گرفتارِ بلائے دوجہاں	ہر بَلا سے کر رِہا! احمد رضا!
تُم ہی مُرشِد، تم دوائے رَنج و غَم	مجھ پہ بھی چشمِ عطا! احمد رضا!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د رضا فيض يې ټول عالَم ته ښکاره کړو

خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! په اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ باندې د **الله** پاک دا ډير لوئي کرم دے، ډير لوئي احسان دے چې په دې دور کښې د هغوئي نوم د حق پيژندګلو ده.

اوس يوه ښکلې خبره عرض کړم: اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د حق پيژندګلو ده او اَلْحَمْدُلِلّٰه! عاشقِ اعلیٰ حضرت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطار قادري دامت برکاتہم العالیہ ځان، خپل ټول کور والا، ټول مريدان، ټولو مئينان د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ عاشقان جوړ کړي

[1]...فيضانِ اعلیٰ حضرت، صفحہ:340.

دي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! پۀ لکونو اِسلامي ورونه او اِسلامي خوئيندې داسې دي د کومو چې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه پيژندګلو او د هغوئي محبت او عقيدت د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه له وجهې نصيب شو.

فکرِ رضا کو کر دیا عالم پہ آشکار | یہ تیرا اُونچا کام ہے الیاس قادری

د اميرِ اهلِسُنَّت د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه سره محبت

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه سره ډېر محبت دے، بے حده محبت دے. ❁ که جَلوت وي او که خلوت (يعني که پۀ تنهايي کښې وي او که پۀ ګڼو خلقو کښې) هغوئي هم د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ذِکرِ خير کوي ❁ هغوئي فرمائي: اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه ولي الله دے، رښتونے عاشقِ رسول او زمونږ منلے شوے بزرګ دے، د هغوئي عقيدت پۀ زړۀ کښې سمبال ساتل بے حده ضروري دي، د الله پاک د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَلْبَرَکَةُ مَعَ اَکَابِرِکُمْ يعني برکت ستاسو د بزرګانو سره دے ❁ هغوئي فرمائي: د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د مسلک نه د يو ويښته برابر د لرې کيدو نه مخکښې دې الله کريم ما ته د ايمان او عافيت سره مرګ راعطا کړي.

د خپلې خوښې د يو کتاب انتخاب

د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه نه پوښتنه وشوه چې فرض کړئ که تاسو پۀ يو ځنګل يا شاړه وغيره کښې قيد کړے شئ او تاسو ته د قرآن او حديث نه علاوه صرف د يو کتاب ساتلو اجازت درکړے شي نو تاسو به د کوم کتاب انتخاب کوئ؟

هغوئي وفرمائيل چې زۀ به د ځان سره د اعلیٰ حضرت، امام اهلِسُنَّت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د فتاویٰ رضويه شريف د ساتلو خواست کووم ځکه چې پۀ دې کښې ډېر څۀ دي، د عبادتونو او

اِعتقاداتو پۀ باره کښې ډيره رهنمائي موجود ده او پۀ دې کښې تصوف هم دے. [1]

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د کتابونو لوستلو شوق

اميرِ اهلِسُنَّت دامت بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زما خوش قِسمتي ده چې زۀ د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه متاثر شوم او بيا مې ورځ پۀ ورځ دا عقيدت زياتيدلو. چې کله زۀ ځلمے شوم نو د يوې لائبريرۍ ممبر جوړ شوم. د هلته نه به مې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د فتاوىٰ مجموعے مثلاً ❁ اَحکامِ شريعت ❁ عرفانِ شريعت ❁ او ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت وغيره راخستل او هغۀ به مې لږ لږ لوستل چې که دا ختم شي نو بيا به څۀ کووم؟ دا زما جذبات وو، پۀ دې کتابونو کښې به مې چې شرعي مسئلې لوستلې نو ما له به يې دومره مزه راکوله چې ما به مسلسل لوستلې. بادوې الوځول څنګه دي؟ جهينګا خوړل څنګ دي؟ داسې قِسمه خوندورې مسئلې کومې چې عام طور عوامو ته معلومې هم نه وي د هغې لوستلو به خوند راکولو. د فتاوىٰ رضويه خو هٰغه وخت شايد چې ما نوم هم نه وو اوريدلے. بهر حال الله پاک ډير کرم وکړو چې د خپل وَلۍ کامِل، عاشقِ رسول او عظيم عالِمِ دِين او د مُفتيِ اِسلام لمن يې راعطا کړله. عالمان او مفتيان خو نور هم ډير دي خو د احمد رضا رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ شان څوک هم نشته. تر اوسه پورې که پۀ دريو څلورو صدو کښې د هغوئي پۀ شان څوک پيدا شوے وي زما سره يې معلومات نشته. (تذکره امير اہلسنت)

اگلوں نے بھی لکھا ہے بہت علمِ دین پر | جو کچھ ہے اس صدی میں وہ تنہا رضا کا ہے

د اميرِ اهلِسُنَّت نصيحتونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اميرِ اهلِسُنَّت دامت بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه عطاريانو ته، خپلو

---

[1]...اميرِ اہلِ سنت کی کہانی انہی کی زبانی، قسط6.

عقيدت مندو ته بلکې هم ټولو عاشقانِ رسول ته د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د لَمَن نيولو فرمائي. هغوئي فرمائي: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږ د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ لَمَن نيولې ده نو وَالله، بِالله، تَالله دا مو څۀ تيندک نه دے خوړلے، (دا د اميرِ اهلِ سُنَّت کمال محبت دے چې دوئي دامت برکاتہم العالیہ درې ځله د الله پاک قَسَم وخوړلو چې مونږه د امام احمد رضا خان صاحب لَمَن نيولې ده نو تيندک [ټوکر] مو نۀ دے خوړلے)، نور فرمائي: بلکې مونږ د دې دَر د پاره دُنيا غورځولې ده. الله دې کړي چې د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ لمن زمونږ د لاسونو نه خلاصه نۀ شي، زمونږ د لاسونو نه خلاصه نۀ شي، د هغوئي دروازه پۀ مضبوطۍ سره نيول دي چې يَكْ دَرْ گِيْرْ مُحْكَمْ گِيْرْ يعني هم يوه دروازه اونيسه خو پۀ مضبوطۍ سره يې اونيسه. چې تعليم يې هم اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ راکړے دے. دا هم ټيک نو هغه هم ټيک نه دي بلکې څۀ چې رضا وه وائي هم هٰغه ټيک دي ځکه چې رضا هيڅ خبره د قرآن او حديث خلاف نه کوي. چې کله مونږ د هغوئي فتاویٰ، د هغوئي کتابونه او د هغوئي سيرت ولوستلو نو مونږ پۀ دې خبره باندې پوهه شو چې د رضا د خُلې نه هٰغه ووځي د څۀ تائيد او تصديق چې د قرآن او حديث نه کيږي. ځکه پۀ رضا باندې خپلې سترګې بندې کړئ، که چرې سترګې وغړوئ نو هسې نه چې مشکل راپيښ شي او د زړۀ سترګې بندې شي لهٰذا سترګې پټې کړئ او پۀ رضا پسې وروستو وروستو ځئ، اِنْ شَآءَ اللّٰه الْكَرِيم! د غوثِ پاک تر لمنې پورې به ورسئ او غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیہ به مو د خپل نيکه بابا جان، رحمتِ عالميان صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلم تر ښپو پورې بوځي.

باغِ جنّت میں محمد مسکراتے جائیں گے | پھول رحمت کے جھڑیں گے، ہم اُٹھاتے جائیں گے

د اميرِ اهلِسُنَّت دامت برکاتہم العالیہ نه پوښتنه وکړے شوه چې پۀ اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ باندې د سترګو بندولو مطلب څۀ دے؟ اوئې فرمائيل: د دې مطلب دا دے چې مونږ پۀ

اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ باندې هيڅ قِسمه تنقيد هم نه کوو او نۀ د هغوئي پۀ بيان شوې ځۀ خبره کښې مونږ شک کوو د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ پۀ معامله کښې هم پۀ سترګو بندولو کښې عافيت دے، که پۀ دې بارګاه کښې سترګې غړوئ نو د تيندک خوړلو انديښنه ده. ياد ساتئ چې مونږ اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د **الله** پاک ولي منو، نبي نه منو، د **الله** پاک بے شميره اوليائے کرام رحمۃ اللہ علیہم دي، پۀ دې کښې يو اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ هم دے.

(اعلیٰ حضرت اور امیر اہلسنت)

پۀ خوب کښې يې د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ ديدار نصيب شو

د يو اِسلامي ورور بيان دے: يوه شپه چې زۀ اوده شوم نو زما بخت رابيدار شو، زما پۀ خوب کښې د امامِ اهلِسُنَّت اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ ديدار نصيب شو. منظر ځۀ داسې وو چې اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ جمعه ورکوله او د څۀ نوراني مخونو والا خلقو پۀ سرونو باندې عمامې وې، سپينې جامې يې اغوستې وې او پۀ هغوئي پسې يې نمونځ کولو.

د دې نه پس زما سترګې وغړيدلې، چې معلومات مې وکړل نو معلومه شوه چې دا د سُنتو ډکه ځليه کومه چې پۀ خوب کښې راوښودلے شوه، دا د دعوتِ اِسلامي والؤ ده او د دوئي امير مولانا الياس عطّار قادري دامت برکاتہم العالیہ دے. بيا زما د اميرِ اهلِسُنَّت د رسالے **تذکره امام احمد رضا** لوستلو موقع نصيب شوه، زړۀ خو مې د مخکښې نه مطمئين وو، د اميرِ اهلِسُنَّت چې مې د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ سره محبت وليدلو نو زۀ نور هم متاثر شوم او د اميرِ اهلِسُنَّت پۀ لاس باندې مې بيعت وکړو او عطّاري جوړ شوم. (اعلیٰ حضرت کی انفرادی کوشش)

مسلک کا تُو اِمام ہے اِلیاس قادری | تدبیر تیری تام ہے الیاس قادری
سَر مستیٔ رضا کی ہر عالم میں دھوم ہے | ساقیٔ دورِ جام ہے الیاس قادری
سنّت کی خوشبوؤں سے زمانہ مہک اُٹھا | فیضان تیرا عام ہے الیاس قادری

د رضا د خوب عملي تعبير

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه جوړ کړے شوے ښکلے تحريک **دعوتِ اِسلامي** کوم چې پۀ ټوله دُنيا کښې د دِين خدمت کوي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! دا هم پۀ اَصل کښې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فيضان دے. يو څو کاله مخکښينی خبره ده، د هندوستان يو لوئي عالِمِ دِين عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه (کراچۍ، پاکستان) ته تشريف راوړلو، چې کله پۀ پوړو راوختو او هغوئي د فيضانِ مدينه پۀ فراخه دالان کښې قدم کيښودو او د عالمي مَدَني مرکز وداني او د عاشقانِ رسول ګڼه شميره يې وليدله نو يو سوړ اسويلے يې وکړو او اوئې فرمائيل: **امامِ احمد رضا خان** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **چې د دِين د خِدمت کوم خوب ليدلے وو، نن زۀ پۀ غړيدلو سترګو د هغې تعبير وينم.** (فيضانِ امام اہلسنت)

اللہ کی نعمت ہے، یہ دعوتِ اسلامی | آقا کی عنایت ہے، یہ دعوتِ اسلامی
رَحمٰن کی رحمت ہے، یہ دعوتِ اسلامی | شیطاں کی ہلاکت ہے، یہ دعوتِ اسلامی
سب نبیوں کی ، ولیوں کی ، اصحاب کی اہلِ بیت | کی خاص عنایت ہے، یہ دعوتِ اسلامی
فیضانِ رضا ہے اور ، یہ غوث کا فیضاں ہے | خواجہ کی حِمایت ہے، یہ دعوتِ اسلامی

د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه 10 ارشادات او دعوتِ اِسلامي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! هغه عالِمِ دِين چې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د کوم خوب ذِکر وکړو، هغه څۀ وو؟ هغه پۀ اَصل کښې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان کړے شوي د دِين د خِدمت 10 نکتے دي. کومې چې پۀ فتاویٰ رضويه شريف کښې ليکلے شوې دي. هغه 10 نکتے څۀ دي؟ دا هم اورو او دعوتِ اِسلامي د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ دې ارشاداتو باندې څنګه عمل کوي؟ دا هم اورو.

اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: پۀ لوئي کچ د دِين د خِدمت د پاره ضروري دي چې (1):

مدرسے جوړې کړے شي، باقاعده اُستاذان وساتلے شي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي پۀ دې باندې عمل وکړو، دا وخت (تر اګست 2024 پورې) د دعوتِ اِسلامي د لاندې ❁ پۀ ملک او بهر ملکونو کښې څه کم يا زياتې **7 زره، 371** جامعات او مدارسُ الـمدينه (بوائز ايند ګرلز) جوړې دي ❁ پۀ کومو کښې چې د ستاف شميره څه کمه يا زياته **24 زره 707** ❁ د طالبِ علمانو شميره څه کمه يا زياته **3 لاکهه، 74 زره 305** ده. **(2):** اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: طالبِ علمانو ته دې وظيفې ورکړے شي د پاره د دې چې هغوئي د عِلمِ دِين پۀ لور مائل وي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د رضا پۀ دې فرمان باندې هم عمل کوي، د دعوتِ اِسلامي لاندې ❁ مختلفو تخصصاتو (سپيشلائزيشن) کوونکو طالبِ علمانو ته د مياشتې معقول وظيفے ورکولے شي ❁ هم داسې د مدرسـةُ الـمدينه او د جامـعة الـمدينه طالبِ علمانو ته د هاسټل مفت سهولت درې وخته خوراک او ❁ د فري ميډيکل سهولت هم ورکولے شي. **(3):** اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: استاذانو ته دې غوره تنخواګانې ورکړے شي د پاره د دې چې د زړۀ د اِخلاصه عِلمِ دِين وښائي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د رضا پۀ دې فرمان باندې هم عمل کوي ❁ پۀ جامـعة الـمدينه او مدرسـة الـمدينه کښې سبق ښودونکو استاذانو ته بهترينې تنخواګانې هم ورکولے شي ❁ پۀ رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د بونس پۀ طور يوه زياتې تنخوا هم ورکولے شي ❁ د دې نه علاوه د شرطونو او ضابطو مطابق فري ميډيکل سهولت او نور مراعات هم ورکولے شي. **(4):** اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: چې د طالبِ علمانو د صلاحيتونو اندازه دې واخستے شي، کوم طالبِ علم چې پۀ کوم کار کښې زيات مناسب وي، د معقول وظيفې ورکولو سره دې پۀ هغه کار کښې ولګولے شي ❁ پۀ دوئې کښې څوک مدرس جوړ شي ❁ څوک ليکوال جوړ شي ❁ او څوک واعظ جوړ شي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي پۀ دې باندې هُم د

عمل کوشش کوي، پۀ جامعة المدينه او مدرسةُ المدينه کښې د لوستونکو او نور شارټ کورسونو کوونکو طالبِ علمانو کره کتنه کيږي، د هغوئي د صلاحيتونو مطابق ځوک دارُ الافتاء اهلسُنّت ته وَرسي او د فتوو ليکلو خِدمت کوي ❁ ځوک مفتيان جوړيږي ❁ ځوک پۀ المدينة العلميه کښې د ديني کتابونو ليکلو خدمت کوي ❁ ځوک مدرس جوړيږي ❁ او ډير د امامت او خطابت فريضې ترسره کوي، پۀ دې ديني خدمت باندې دوئي ته معقول او بهترينې تنخواګانې هم ورکولے کيږي **(5):** اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ وفرمائيل: چې کوم کَسان تيار شي، هغوئي دې پۀ ملک کښې خوارۀ کړے شي چې د دِين خِدمت وکړي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! پۀ دعوتِ اِسلامي کښې د عاشقانِ رسول تربيت کولے شي او ملک او بهر ملکونو ته ليږلے شي، هغوئي له باقاعده تنخواګانې ورکولے شي او هغوئي د ګټې نه د بے پروا کيدو سره د دِين خدمت کوي. **(6):** اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ وفرمائيل: باقاعده دې تنخواګانې ورکړے شي او پۀ ليکوالو دې فائده مند دِيني کتابونه او رسالے وليکلے شي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! دې مقصد پاره د دعوتِ اِسلامي يوه پوره اداره المدينةُ العلميه (اِسلامِک ريسرچ سنټر) قائم دے، چرته چې ګڼ شمير مَدَني علمائے کرام دِيني کتابونه ليکي، اَلْحَمْدُلِلّٰه! اوسه پورې پۀ سوونو دِيني کتابونه او رسالے ليکلے شوې دي، د **الله** پاک پۀ کرم سره دعوتِ اِسلامي دې مَدَني عالمانو ته باقاعده تنخواګانې ورکوي. **(7):** اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ وفرمائيل: چې کوم کتابونه وليکلے شي، هغه دې پۀ ښه طريقه باندې چاپ کړے شي او پۀ ټول ملک کښې دې تقسيم کړے شي. د رضا پۀ دې فرمان د عمل کولو د پاره دعوتِ اِسلامي خپله د خپرونو اداره مکتبة المدينه جوړه کړه، چرته چې پۀ بهترين او ښکلي انداز کښې کتابونه چاپ کولے شي، د رسالو د تقسيمولو (يعني د مختلفو کتابونو او د رسالو د مفت تقسيمولو) سلسله هم وي او کتابونه خرڅيږي هم. **(8):** اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ وفرمائيل:

پۀ ښارونو کښې دې خلق موجود وي، چرته چې د کوم قِسمه موضوعاتو ضرورت وي، پۀ هٰغه عنواناتو [يعنې سر خطونو] باندې دې کتابونه، رسالے وليکلے شي او چاپ دې کړے شي، د دې مقصد د پاره د دعوتِ اِسلامي پوره تنظيمي سيټ اپ دے، د ذيلي حلقے نه واخله تر د مرکزي مجلسِ شُورىٰ پورې پوره يو نظام قائم دے، ښار پۀ ښار، کلي پۀ کلي ذِمه داران موجود دي، د فيډ بيک شعبه جوړه ده، کوم اِسلامي ورور ته چې پۀ خپله علاقه، ښار وغيره کښې د کوم قِسمه موادو ضرورت محسوسيږي، پۀ فيډ بيک کښې خپل تجويزونه ليکي، پۀ هٰغه تجويزونو باندې مشوره کيږي، بيا د هغې مطابق کار کولے شي. **(9):** اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل چې څوک قابل دي خو پۀ کارونو کښې مصروف دي، هغوئي له دې تنخواګانې ورکړے شي او د ګټې د مصروفياتو نه دې فارغ کړے شي او پۀ دِيني کارونو کښې دې مشغول کړے شي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! پۀ دې انداز کښې هم دعوتِ اِسلامي د دِين خِدمت کوي، څوک چې د کوم صلاحيت مالِک دے او خپل صلاحيت د دِين پۀ خدمت کښې لګولے شي، هغۀ باقاعده ټاکلے شي، تنخواګانې ورکولے شي او د هغوئي د صلاحيتونو نه فائده اخستے شي، دې لړ کښې تقريباً د 80 نه زياتو شعبه جاتو کښې د دِين خِدمت جاري دے. **(10):** اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه وفرمائيل: مذهبي اخبار دې چاپ کيږي، پۀ کوم چې دې وخت پۀ وخت د موقعې مناسبت سره مضامين ليکلے کيږي، او ټول ملک ته دې ورسولے شي. دلته اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه پۀ اصل کښې د پرنټ ميډيا پۀ ذريعه د دِين د خدمت کولو ذهن ورکړے دے، پۀ هٰغه دور کښې ډيجيټل ميډيا موجود نه وه، اوس موجود ده، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د پرنټ ميډيا پۀ ذريعه هم د دِين خِدمت کوي او د ډيجيټل ميډيا پۀ ذريعه هم د دِين خِدمت کوي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي خپله ماهنامه فيضانِ مدينه هره مياشت جاري کيږي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه د دعوتِ اِسلامي خپل ويب

سائټ هم موجود دے، د يوټيوب، فيس بک، انسټا ګرام وغيره پيجز هم جوړ کړے شوي دي، چې په دې کښې تقريباً 70 اکاؤنټ دي او د دې تقريباً 47 ملين (**Million**) يعنې پاؤ کم پينځه کروړه فالورز (**Followers**)اور سَبسکرائِبَرز (**Subscribers**) دي. آئي ټي ډيپارټمنټ هم جوړ دے، د کوم په ذريعه چې مختلف موبائل ايپلي کيشنز جوړولے شي، داسې تقريباً په هر فورم باندې د موجودو تقاضو مطابق د دِين خدمت جاري دے. (فيضانِ امام اہلسنت)

اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په فيضان سره، د هغوئي د ښودلے شوو طريقو مطابق د اوسني وخت د تقاضو مطابق په ټوله دنيا کښې د دِين پيغام عام کړے دے او نور يې هم کوي.

اللہ کی نعمت ہے ، یہ دعوتِ اسلامی | آقا کی عنایت ہے ، یہ دعوتِ اسلامی
ملحوظ شریعت ہے ، تو پاسِ طریقت ہے | سر تا پا سعادت ہے ، یہ دعوتِ اسلامی
اسلام کی تعلیمات اور دین کے احکامات | سکھلاتی شریعت ہے ، یہ دعوتِ اسلامی

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! تاسو هم د دعوتِ اِسلامي دې دِيني ماحول ته راشئ! د دِين په دې عظيمُ الشان خِدمت کښې خپله حصه شامله کړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دِين او دُنيا بے شميره خيرونه به درنصيب شي.

په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: مَدَني کورسز

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د مخکښينو بزرګانو په عقيدو باندې د پوخ يقين حاصلولو، په صراطِ مستقم باندې د اِستقامت موندلو، د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په محبت باندې د زړۀ روښانه کولو د پاره هر وخت د دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره خپل تړون مضبوط وساتئ! په 12 ديني کارونو کښې هم پوره برخه اخلئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د دُنيا او د آخرت

بے شميره خيرونه به مو نصيب شي. پۀ 12 ديني كارونو كښې يو ديني كار **مَدَني كورسز** هم دے.

اَلْحَمْدُلِلّٰه! ❁ دعوتِ اِسلامي د دِين نُور تقسيموونكے ديني تحريک دے ❁ كم از كم فرض عِلمِ دِين لكه د اودس، غسل، نـمونځ، جنازے، روژې، زكوٰة وغيره ضروري مسئلې خو دې هر مسلمان زده كړي، دعوتِ اِسلامي د دې اراده لري ❁ د دې مقصد د پاره دعوتِ اِسلامي ډير شارټ كورسونه كوي، لكه ❁ د 7 ورځو فيضانِ نماز كورس ❁ د 7 ورځو او د 12 ديني كارونو كورس ❁ د 7 ورځو اِصلاحِ اَعمَال كورس. د دې نه علاوه ❁ طهارت كورس ❁ وضو كورس ❁ غسل كورس ❁ احكامِ روزه ❁ احكامِ زكوٰة كورس وغيره هُم كيږي. دا كورسونه رېائشى هُم وي او غير رېائشى يعني جُزوقتى هُم وي.

❁ **تاسو هم دا مختصر مختصر كورسونه وكړئ!** اِنْ شَآءَاللّٰه الْكَرِيم! ډير بركتونه به درنصيب شي ❁ چې دِين زده كړئ نو **الله** پاک به راضي شي ❁ پۀ رزق كښې به مو بركت راشي ❁ د عِلمِ دِين خزانه به حاصله كړئ ❁ د نيكو ذِهن به مو جوړيږي ❁ د **الله** پاک عبادت چې پۀ صحيح انداز وكړئ نو اِنْ شَآءَاللّٰه الْكَرِيم! كرم به هُم كيږي ❁ د شارټ كورسونو دا فائده هم وي چې انسان پۀ غير محسوس انداز كښې ډير څۀ زده كړي ❁ كار روزګار يې هم نه خرابيږي او پۀ يو څو ورځو كښې ډير معلومات حاصل شي ❁ لكه څنګه چې نـمونځ دے، د دې احكام او مسائل خو دومره ډير دي چې كتابونه ترينه ډک دي، زمونږ پۀ شان خلق به دومره غټ غټ كتابونه څنګه لولي؟ دومره وخت به څنګه اوباسي؟ ځكه اسانه طريقه دا ده چې د 7 ورځو فيضانِ نماز كورس وكړئ، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې غټو غټو كتابونو نچوړ به درته ښودلے كيږي ❁ بيا به مو ديني ماحول هم نصيب شي ❁ د نيكانو خلقو صحبت به مو هم نصيب شي، د دې خپل بركتونه دي.

د دوؤ ورونو د اِصلاح راز

د يو اسلامي ورور د بيان خلاصه ده: ديني ماحول ته د راتلو نه وړاندې زه پۀ قِسما قِسم ګناهونو کښې اخته ووم، زما بخت څه داسې رابيدار شو چې زما مشر ورور د اِسلامي وروڼو د نيکۍ پۀ دعوت باندې د **63 ورځو مَدَني تربيتي کورس** کښې داخله واخسته. د **تربيتي کورس** کولو نه پس چې کله زما ورور کور ته تشريف راوړو، ټول کور والۀ چې دا اوليدل نو ډير حيران پاتې شول چې هغه بالکل بدل شوے وو، د سنّتو مطابق جامې، پۀ سر يې عمامه شريف وه. زه د هغه د اخلاقو او کردار نه ډير متاثره شوم. اَلْحَمْدُلِلّٰه! زما ورور ما له هم د نيکۍ دعوت راکړو او زه يې هم د ځان سره د 33 ورځو هفته وارې د سنّتو ډکې اجتماع ته بوتلم. د ورور جان پۀ پوهه کولو باندې ما هم **د 63 ورځو پۀ مَدَني تربيتي کورس** کښې داخله واخسته، پۀ کوم کښې چې د شريعت د بے شميره مسئلو، سنتو او دعاګانو زده کولو موقع ميلاؤ شوه. پۀ ما باندې د کريم رَبّ ډير احسان دے چا چې ما ته د خپل حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ وسيله د دعوتِ اِسلامي ښکلے ښکلے ديني ماحول راعطا کړو.[1]

ترا شکر مولا دیا دینی ماحول | نہ چھوٹے کبھی بھی خدا دینی ماحول
یہاں سنّتیں سیکھنے کو ملیں گی | دِلائے گا خوفِ خدا دینی ماحول

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د دعوتِ اِسلامي ډيجيټل سروسز موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د آئي تي ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا ډير فائده مند موبائل ايپلي کيشن پۀ نوم د دعوتِ اِسلامي ډيجيټل سروسز

---

[1]...بريک ڈانسر کيسے سدھرا، صفحه:10تا12.

Dawateislami Digital Services معارفي کړے شوے دے، د دې ايپلي کيشن ښه خوبي دا ده چې په دې کښې د دعوتِ اِسلامي د **I.T** ډيپارټمنټ له خوا جاري کړے شوي ټول مواد، مثلاً د دعوتِ اِسلامي ويب سائټس، سوشل ميډيا پيجز، ايپلي کيشنز يو حائے کړے شوي دي، چې تاسو کوم ويب سائټ ته هم تلل غواړئ، يا په يو سوشل ميډيا اکاؤنټ باندې يا يو ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کول غواړئ، نو بس په دې کښې يې سرچ کړئ او د اِسلامي معلوماتو خزانه حاصله کړئ، نو هم نن دا ايپلي کيشن ډاؤن لوډ کړئ او د نورو سره يې هم شيئر کړئ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د مدرَسَةُ الْمَدينه ترغيب

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! مونږه مسلمانان يُو، د **الله** پاک او د هغۀ د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محبت زمونږ د ايمان تقاضه ده، ، د **الله** پاک او د هغۀ د حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د محبت نښه قرآن کريم سره محبت کول دي.

زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به قرآن شريف سره ډيره مينه لرله، خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې زده کوونکي او نورو ته ښودونکي د ټولو انسانانو نه بهتر قرار کړي دي، په حديث شريف کښې دي: په تاسو کښې بهتر هغه دے څوک چې قرآن زده کړي او [نورو ته يې] زده کړي. (1) په يو بل حديث شريف کښې يې د قرآن کريم تلاوت د اُمَّت بهترين عبادت قرار کړے دے (2)

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د قرآن شريف تلاوت به هله عبادت شميرلے شي چې کله

1...بخاری، کتاب فضائل القرآن، باب خیرکم من...الخ، صفحہ:1299، حدیث:5027۔

2...شعب الایمان، باب فی تعظیم القرآن، فصل فی ادمان تلاوتہ، جلد:2، صفحہ:354، حدیث:2022۔

هغه پۀ درست انداز کښې پۀ عربي لب و لهجه کښې ووئيلے شي. قرآن کريم پۀ درست انداز کښې لوستل زده کولو، بنيادی فرض علوم زده کولو، او د ډيرو ډيرو سُنّتو زده کولو د پاره هُم نن پۀ مدرَسَةُ الْمَدينه بالغان کښې داخله واخلئ! **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راکړي. آمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللهُ عليهِ واٰلهٖ وسلَّم

يو څو ضروري اِعلانات

❁ د هر خالي پۀ ورځ **اميرِ اهلِسُنَّت** دامت برکاتهم العاليه **پۀ مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې پۀ ورځ به هم د ماسخوتن د نـمانځه نه پس پۀ مَدَني چينل باندې اِنْ شَآءَ الله الکريم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پۀ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دامت برکاتهم العاليه د سوالونو جوابونه هم ورکوي. ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول پۀ دې مَدَني مذاکره کښې پخپله هم شرکت وکړئ او نورو له هم د دې دعوت ورکړئ ❁ **هفته واره رساله مطالعه** هم پۀ 12 دِيني کارونو کښې يو دِيني کار دے. هره هفته پۀ مَدَني مذاکره کښې د يوې رسالے د لوستلو اِعلان کولے شي، د راتلونکې هفتې پۀ مَدَني مذاکره کښې به د رساله **فيضانِ دعوتِ اِسلامي** (سپيشل ماهنامې) اِعلان کولے شي. دا رساله پخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئ دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر (*Share*) کړي! ❁ اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنَّت احمد رضا خان رحمۃ اللہ علیہ ته د 100 نه پۀ زياتو علومو باندې

مهارت حاصل وو، او هغوئي تقريباً د يو زر [1000] نه زيات كتابونه ليكلي دي، فتاوىٰ رضويه پۀ دې كښې ډير مشهور دے كوم ته كه د فقه حنفي انسائيكلو پيډيا وه وئيلے شي نو مبالغه به نه وي، مكتبة المدينه پۀ دې كښې موجوده يوه رساله پۀ نوم د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ نه سوال جواب د چاپ كولو سعادت حاصل كړے دے، دا رساله پۀ مختلفو موضوعاتو باندې د اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ نه پۀ شوؤ سوالونو او د هغې پۀ جوابونو باندې مشتمله ده. تاسو دا رساله د مكتبة المدينه د هرې يوې ځانګې نه پۀ 70 روپۍ پۀ بيغه اخستے شئ. دا رساله هم نن واخلئ! پخپله يې هم ولولئ! او نورو له هم د دې ترغيب وركړئ!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د بيان پۀ اخره كښې د سُنّتو فضيلت او د ژوند د يو څو ادابو بيانولو سَعَادت حاصلووم. تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِي فَقَدْ اَحَبَّنِي وَمَنْ اَحَبَّنِي كَانَ مَعِيَ فِي الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وكړو هغۀ زما سره محبّت وكړو او چا چې زما سره محبّت وكړو هغۀ به پۀ جنّت كښې زما سره وي. (1)

سينہ تيری سُنّت كا مدينہ بنے آقا! | جنت ميں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

حِلم د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دے

---

1 ...تاريخ دمشق، جلد:9، صفحه:343.

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم 2 فرامين مبارک: (1): حِلم والا پۀ دُنيا کښې هم سردار دے، پۀ آخرت کښې هم سردار دے.[1] **(2):** د حِلم پۀ ذريعه بنده پۀ ورځ کښې د روژه نيوونکي او د شپې د قيام (يعني عبادت) کوونکي درجه بيامومي.[2]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! حِلم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دي. ❁ زمونږه خوږ آقا، مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چرې هم بے ځايه غصه نه ده کړې. ❁ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چرې هم د خپل ذات پۀ باره کښې د چا نه انتقام نه اخستو. ❁ پۀ مخکښينو آسماني کتابونو کښې د هغوئي دا صِفت هم بيان شو: د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره چې څومره هم د جهالت والا سلوک کولے شي، هٰغه همره به د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حِلم زياتيږي.[3]

د حِلم پۀ باره کښې مَدَني ګلونه: ❁ حِلم د **الله** پاک صِفت دے. ❁ حِلم د **الله** پاک خوښ صِفت دے ❁ حِلم د انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام سُنَّت دے ❁ د حِلم معنٰی ده: **نرم مزاجي** اِمامِ غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: صبر (يعني نرم مزاجي) د غصے څښلو نه افضل ده چې د غصے څښلو ضرورت هغۀ ته وي، د چا غصه چې سخته شي، خو حِلم والا له پۀ غصه کښې جوش هډو ورځي نه.[4] ❁ د حِلم سره بزرګي نصيب کيږي.

د حليم جوړيدو طريقے: ❁ حِلم پۀ تکلف سره راځي (يعني بنده چې د کوشش کولو سره، پۀ تکلف کولو سره غصه څښي، نو پۀ ورو ورو به يې پۀ طبيعت کښې حِلم پيدا شي)

---

1 ...جامع صغير، صفحه:233، حديث:3831.

2 ...مَجْمَعُ الزَّوائِد، کتابُ الْاَدب، باب حُسْنِ اَخْلاق کے بيان ميں، جلد:8، صفحه:19، حديث:12687.

3 ...صِراط الجنان، جلد:2، صفحه:79.

4 ...اِحْيَاءُ العلوم مترجم، جلد:3، صفحه:535.

❁ د عمامې پۀ سر کولو سره حِلم زياتيږي ❁ د چيلو خَرولو سره هم پۀ طبيعت کښې حِلم پيدا کيږي.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکتبة المدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دامت برکاتهم العالیه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اِسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

قرض ہو گا ادا آکے مانگو دعا | پاؤ گے برکتيں قافلے ميں چلو
قَرض کا بار ہو، بے کسی يار ہو | چاہو گر راحتيں قافلے ميں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلی الله علیه واله وسلم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

د جشنِ وِلادت په باره کښې د عطّار مکتوب

د سګِ مدينه محمد الياس عطّار قادري عُفِيَ عَنهُ له طرفه د ټولو عاشقانِ رسول اسلامي ورونو په خدمت کښې:

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ الله وَبَرَكَاتُه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِين على كُلِّ حال.

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِين! خوشحاله شئ! ډيره زر د ربيعُ الاوّل مياشت راتلونکې ده، په ښه ښه نيتونو سره د جشنِ ولادت نمانځلو د پاره تيار شئ.

تم بھی کرکے اُن کا چرچا اپنے دِل چمکاؤ | اونچے ميں اونچا نبی کا جھنڈا گھر گھر ميں لہراؤ

(1) د مياشتې ښکاره کيدو پۀ شپه په دې الفاظو سره 3 ځله په جُماتونو کښې اعلان وکړئ: ټولو اسلامي وروڼو او اسلامي خويندو ته دې مبارک شي د ربيعُ الاوَّل شريف مياشت اوليدلے شوه.

ربیعُ الاوَّل اُمیدوں کی دنیا ساتھ لے آیا | دعاؤں کی قبولیت کو ہاتھوں ہاتھ لے آیا

(2) مهرباني اوکړئ! د رَبيعُ الاوَّل شريف په برکت سره دې اسلامي وروڼه هم د نن نه د يو موټي ګيرې پريښودو نيت اوکړي. (د سړي ګيره خريَل يا د يو موټي نه کمول حرام او فوراً د دې نه د توبه کولو سره د دې ګناه نه د هميشه د پاره پريښودل ضروري دي)

جُھک گیا کعبہ سبھی بُت، منہ کے بل اَوندھے گرے | دَبدبہ آمد کا تھا، اَھْلًا وَّ سَھْلًا مرحبا

(3) په سنتو او نيکو باندې د استقامت موندلو (يعنې چې هميشه پرې عمل کيږي د دې) بهترينه فارمولا دا ده چې ټولو اسلامي وروڼو نن کوم کوم عمل اوکړو؟ په دې باره کښې هره ورځ **د خپلو اعمالو جائزه اخستلو پۀ ذريعه د نيک اعمال رساله** کښې خانے ډکوئ او د هرې انګريزئ مياشت په وړومبي تاريخ يې خپل نزدې ذمه دار ته جمع کوئ. د تقوٰی نايابه خزانه به په لاس درشي او د عشقِ رسول ډک جامونه به مو نصيب شي.

بدلیاں رَحمت کی چھائیں، بُوندیاں رَحمت کی آئیں
اب مرادیں دل کی پائیں، آمد شاہِ عرب ہے

(4) د دعوتِ اسلامي د ذمه وارانو سره سره ټول اسلامي وروڼه نيت اوکړئ چې په هفته واره مدني مذاکره کښې به (د سوال او جواب شروع کيدو نه کم نه کم 1 ګهنټه 12 منټه) شرکت او په هفته واره د سنتو نه ډکه اجتماع کښې به ټوله شپه تيروئ، دا نيت هم وکړئ

چې هره مياشت به 3 ورځې، په هرو 12 مياشتو کښې 1 مياشت او په ژوند کښې کم نه کم يو ځل د 12 مياشتو د سنتو زده کولو او ښودلو په مدني قافله کښې به سفر کوئ. ټول عاشقانِ رسول او ورسره نګران او ذمه داران دې په رَبيعُ الاوَّل شريف کښې په بارګاهِ رسالت کښې د ايصالِ ثواب په نيت سره کم نه کم د 3 ورځو د پاره د سنتو زده کولو او ښودلو په مدني قافله کښې سفر اوکړي او هره ورځ **کور درس** هم ورکوئ يا اورئ.

میں مبلّغ بنوں سنتوں کا، خوب چرچا کروں سنتوں کا
یا خدا!درس دوں سنتوں کا، ہو کرم!بہر خاکِ مدینہ

(5) په خپل جُمات، کور، دُکان، کارخانه وغيره باندې 12 جنډې، يا کم نه کم يوه مدني جنډه د رَبيعُ الاوَّل شريف د مياشت شروع کيدو د شپې نه تر 12 رَبيعُ الاوَّل پورې اولګوئ. په ښسونو، ويګنو، ټرکونو، غټو ګاډو، ټيکسيانو، رکشو، ګاډو وغيره باندې مدني جنډه اولګوئ. په خپل سائيکل، اسکوټر او موټر باندې ئې هم اولګوئ. په هر طرف به د مدني جنډو سپرلے راشي. عام طور په ټرکونو شاته د ساه لرونکو ځناورو غټ غټ تصويرونه او فضول شعرونه ليکلے شوي وي. که کيدے شي نو په خپلو ګاډو باندې دا اوليکئ: **زما د دعوتِ اسلامي سره مينه ده.**

دعائے عطّار: يا ربِّ مصطفٰے! څوک چې په خپلو سکوټرو باندې (صرف مخې طرف ته او) په موټرو، ټيکسيانو، ښسونو، ټرکونو، ټرالو، د اوبو په ټينکرو، ويګنو، رکشو، سوزکو وغيره باندې مخې يا وروستو دواړو اړخونو ته **زما د دعوتِ اسلامي سره مينه ده** اوليکي يا د دې سټيکر اولګوي يا [ئې د بَل په] ګاډي اولګوي. د هغه ګاډے د حادثے نه بچ وساتې او

هغه بے حسابه اوبخښې، څوک چې يو ګاډي والا د دې د پاره تيار کړي د هغه په حق کښې هم دا دُعا قبوله کړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى الله عليه واٰله وسلَّم

ضروري احتياط: که په جنډه باندې شين ګنبد، نقشِ نعلِ پاک يا بَل څه ليکل وي نو د دې خبرې خيال ساتئ چې نه هغه اوشليږي، نه په زمکه پريوځي. که ادب نه کيږي نو داسې جنډې مه اوچتوئ، د 12 رَبيعُ الاوَّل شريف ورځ چې څنګه تشريف يوسي فوراً ټولې جنډې او د لائټنګ سامان کوز کړئ. خاص طور مدني مراکز فيضان مدينه او مساجدِ دعوتِ اسلامي او جامعة المَدينه او مدرسة المَدينه (ګرلز، بوائز) دوئې دې هم په وخت د دې ترکيب جوړ کړي.

نبی کا جھنڈا لے کر نکلو دنیا پر چھا جاؤ | نبی کا جھنڈا اُمّن کا جھنڈا گھر گھر میں لہراؤ

(6) په خپل کور باندې د 12 لَړو والا يا کم نه کم د 12 بلبونو نه، د دې سره سره په خپله محله کښې هم تر 12 ورځو پورې او په خپل جُمات باندې هلته هم د معمول مطابق لائټنګ اوکړئ. چرته چې د جُمات د چنډې نه د 12 ورځو پورې د لائټنګ معمول نه وي نو د دې کار د پاره د جُدا چنډې کولو پۀ ذريعه تر 12 ورځو پورې لائټنګ کيدے شي. ټوله علاقه په مدني جنډو او په قِسما قِسم بلبونو د ناوې په شان ښکلې کړئ. که ممکن وي نو په جُمات، د کور په چهت او چوک وغيره باندې په لار تيريدونکو او سورلو ته د تکليف ورکولو نه بغير د عامو خلقو د حقونو خوړلو نه بغير په فضا کښې زوړند 12 ميټره يا د موقعې په مناسبت سره غټې غټې جنډې اولګوئ. د سړک په مينځ کښې جنډې مه لګوئ ځکه چې د دې سره د ټريفک نظام متاثره کيږي، د جنډې لګولو د پاره فټ پات هم مه راکښنئ، خبردار! په کوڅه وغيره کښې چرته هم داسې سينګار مه کوئ د کوم سره چې د خلقو لاره تنګه شي او د هغوئې حق اوخوړلے شي او زړه آزاري ئې اوشي.

(ياد ساتئ! د دې ښکلاګانو د پاره هم د بجلئ غلا حرام کار دے، ځکه پۀ دې باره کښې د بجلئ ورکوونکو ادارو سره رابطه وکړئ او جائز ترکيب جوړ کړئ)

مشرق و مغرب ميں اِک اِک بامِ کعبہ پر بھی ايک | نصب پرچم ہوگيا، اَھْلًا وَّسَھْلًا مرحبا

(7) هر اسلامي ورور دې د خپل وَس مطابق د مکتبة المَدينه ديني رسالے او د مدني ګلونو مختلف پمفلټس د ميلاد په جلوسونو کښې تقسيم کړي. دغه شان ټول کال په خپل دکان وغيره کښې د رسالو د تقسيمولو انتظام کولو پۀ ذريعه د نيکئ دعوت ورکړئ. د واده په بَلنو [دعوتونو] او د ايصالِ ثواب په اجتماعاتو کښې او د وفات شوو د ايصالِ ثواب د پاره هم د رسالو د تقسيمولو ترکيب جوړ کړئ او نورو له د دې ترغيب ورکړئ. او ټول د هفته وارې رسالے د لوستلو يا د اوريدلو سعادت هُم حاصلوئ، او هر کال د 12 مياشتو د پاره د **ماهنامه فيضانِ مدينه** بُکنګ هُم کوئ.

چار سُو رحمتوں کی ہوائیں چلیں، ہو گئی جس سے ساری فضا دل نشیں
مسکراؤ سبھی آ گئے ہیں نبی، غم کے مارو تمہاری خوشی کے لئے

(8) پمفلټ **د جشنِ ولادت 12 مدني ګلونه** که ممکن وي نو 112 ګڼې کم نه کم 12 او که نور کيدے شي نو 12 رسالے **صبحِ بهاراں** د مکتبة المَدينه نه واخلئ او تقسيم ئې کړئ. خاص طور د هغه تنظيمونو مشرانو ته ئې اورسوئ کوم چې په رَبيعُ الاوَّل کښې لائټنګ کوي يا د نعتونو محفل يا د ميلاد د جلوس انتظام کوي. په رَبيعُ الاوَّل شريف کښې د چا سُنّي عالم يا امام مسجد، مؤذِّن يا د جُمات د خادِم سره څه نا څه مالي مرسته اوکړئ او که هره مياشت دا سعادت حاصل کړئ نو ډيره ښه به وي!. د وَدونو په موقعو باندې د **واده د کارډ** سره د مکتبة المَدينه ديني رساله هم يو ځائے لګوئ. د اختر د کارډونو په ځائے د ديني کتابونو او رسالو ورکولو رواج جوړ کړئ د پاره د دې چې کوم رقم اولګي

د هغې سره د دين فائده هم اوشي. د غم ښادئ په دستورو کښې د نزدې مکتبة المَدينه نه ترکيب جوړولو سره ستال لګوئ او ميلمنو ته د وَس مطابق اسلامي کتابونه او رسالے مفت ورکوئ.

ولادتِ شہِ دیں ہر خوشی کی باعث ہے | ہزار عید سے بھاری ہے بارہویں تاریخ

(9) په ښارونو، کلو وغيره کښې دې هر ***UC*** نګران تر 12 ورځو پورې هره ورځ په بيلو بيلو جُماتونو کښې عظيمُ الشان د سنتو ډک اجتماعات منعقد کړي. د شخصياتو په کورونو، د عاشقانِ رسول په دکانونو، مارکيټونو، کارخانو، تعليمي ادارو وغيره کښې هم دا اجتماعات اوکړئ.

لب پر نعتِ رسولِ اکرم ہاتھوں میں پرچم | دیوانہ سرکار کا کتنا پیارا لگتا ہے

(10) د 11 رَبيعُ الاوَّل په مازديګر کښې په دولسمه شپه د ښۀ ښو نيتونو کولو سره غسل اوکړئ. که کيدے شي **نو د اخترونو د اختر د تعظيم په نيت سره نوې جامې، نوې عمامه، نوے سربند، نوې ټوپۍ، او که څادر په سر کول غواړئ نو نوے سپين څادر، په پرده کښې د پردے کولو د پاره نوے څادر، نوے مسواک، نوے د جيب رومال، نوے پيزار، نوې تسبيح، نوې د عطرو شيشه، نوې د لاس ګړئ، نوے قلم، نوے قفلِ مدينه پيډ وغيره** د خپل استعمال هر څيز که کيدے شي نو نوے واخلئ. (د ميلاد شريف د مجلس او نورو د خير مجلسونو د پاره غُسل کول مستحب عمل دے. اوګورئ: نماز کے احکام، صفحه: 115)

آئی نئی حکومت سکہ نیا چلے گا | عالم نے رنگ بدلا صبح شبِ وِلادت

(11) 12 شپه د ميلاد په اجتماع کښې د تيرولو سره د صبح صادق په وخت په خپلو لاسونو کښې د مدني جنډو راخستو سره د درود او سلام وئيلو سره په نمڅونو سترګو **صبحِ بهاراں** ته هر کلے اووائې. د سحر د لمُونځ نه پس د صلوٰة و سلام لوستلو نه وروستو د اختر

مو مبارک شه وئيلو سره يو بَل سره په خوشحالئ ملاقات اوکړئ او ټوله ورځ چا سره چې ميلاويږئ د اختر مبارکي ورکوئ [يعني "عيدِ ميلادُ النّبي مو مبارک شه" وائي].

عيدِ ميلادُ النّبی تو عيد کی بھی عيد ہے | بالیقیں ہے عيدِ عيداں عيدِ ميلادُ النّبی

(12) د الله پاک خوږ آخري نبي، مُحَمَّدٌ رَّسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د کُل شريف په ورځ باندې د روژې نيولو سره د خپل ولادت ورځ نمانځله، تاسو هم په يادِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کښې د 12 رَبيعُ الاوَّل شريف د روژې نيولو سره مدني جنډې راواخلئ او د ميلاد په جلوس کښې شرکت اوکړئ، څومره چې ممکن وي نو په اوداسه کښې اوسئ، په خُله باندې درود او سلام او نعتونه وائې، د نظر ښکته ساتلو سره د عزت په طريقه ځئ، د درز غوبل کولو سره چا له د تنقيد کولو موقع مه ورکوئ. (د دعوتِ اسلامي ذمه واران دې د ميلاد په جلوس کښې هغه نعرې وهي يا په ګاډو کښې دې هغه کلامونه لګوي کوم چې د مدني مرکز د طرف نه جاري شوي وي)

ربيعِ پاک تجھ پر اہلِ سنّت کيوں نہ قرباں ہوں | کہ تيری بارہويں تاريخ وہ جانِ قمر آيا

د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرگانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنۍ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندۍ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښې د داخليدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخكښې به د هغه ګُناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

---

1 ...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص ۱۵۱ ملخصًا

2 ...القول البديع، الباب الثاني، ص ۲۷۷

﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحْمَد صَاوِی رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرگانو نه نَقل کوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صلی اللہ علیہ والہ وسلم هغه د خپل ځان او صِدّيقِ اکبر رضی اللہ عنہ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۂ کرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا څوك ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صلی اللہ علیہ والہ وسلم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د

---

1 ...افضل الصلوات علی سید السادات، الصلاۃ الثانیۃ والخمسون، ص۱۴۹

2 ...القول البدیع، الباب الاول، ص۱۲۵

هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلی اللہ علیہ والہ وسلم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1...الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث: ۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث: ۱۷۳۰۵

3...تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث: ۴۴۱۵